# کورنی ناخالص تولید
# Gross Domestic Product- GDP

ژباړه له زیاتونو سره

DRAFT

Ketabton.com

10/24/2014

ژباړه : سیدحبیب

Sayed Habib

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنی ناخالص تولید Gross Domestic Product – GDP**

کورنی ناخالص تولید د ملي اقتصاد د اساسي موضوعاتو څخه دی، او په یو معین وخت (معمولا یوکال ) په جریان کې د یو هیواد تولید شویو اجناسو او خدماتو نهایي ارزښت ته کورنی ناخالص تولید وایي .

په کورنی ناخالص تولید کې یوازې د نهایي اجناسو او خدماتو ارزښت شامل دي یعنې هغه اجناس او خدمات چې مستقیما په مصرف کوونکو باندې پلورل کیږی کورنی ناخالص تولیدات شمیرل کیږي .

د تولیدي اجناسو د کمپنۍ لپاره د بریښنا مصارف په کورنی ناخالص تولید کې شامل نه دي ولې که چیرته بریښنا د کورونو د رڼا کولو لپاره استفاده شي نو د بریښنا مصارف په GDP کې شامل دي . باید پوه شو چې د GDP په محاسبه کې باید د اجناسو او خدماتو د ارزښت دوهم ځلي شمیرني څخه مخنیوی وشي .

ددې موضوع د لا روښانتیا لپاره لاندینی مثال په نظر کې نیسو:

د موټرو تولیدونکي کمپنۍ د موټر ځینې پرزې د نورو کمپنیو په واسطه تولیدوي او له تولید وروسته موټر د لمړی کمپنۍ په واسطه جوړیږي او په نتیجه کې د همدې کمپنۍ په نوم بازار ته وړاندې کیږي اوس که چیرته موږ د هرې فرعي کمپنۍ تولیدات په GDP کې شامل کړو نو په نتیجه کې به د یو موټر ارزښت څو ځله وشمیرل شي نو په دې اساس هره پرزه چې د موټر تکمیلیدو پورې چې د اصلي کمپنۍ په واسطه اخستل کیږي د موټر د تولیدونکي کمپنۍ په نوم باید سنجش شی او د موټر نهایي ارزښت باید په GDP کې وشمیرل شي .

**حقیقی کورنی ناخالص تولید Real GDP :**

ددې لپاره چې د GDP اصلي مفهوم لا زیات روښانه شي نو موږ باید د GDP او د انفلاسیون نرخ په اړیکه باندې پوه شو.

که چیرته په بازار کې قیمتونه د یو کال په جریان کې د تیر کال په پرتله دوه برابره شي نو ددې سره د GDP نرخ هم دوه برابره کیږي په داسې حال کې چې عین اجناس او خدمات د تیر کال په شان تولید شوي وي، نو دا چې د قیمتونو په لوړوالی کې د انفلاسیون نرخ له منځه یوړل شي نو ددې لپاره GDP باید د قیمتونو په شاخص باندې وویشل شي تر څو حقیقی GDP په لاس راشي.

$$\text{Real GDP} = \text{GDP}/\text{Price Index}$$



DRAFT

(c) ketabton.com: The Digital Library




**د کورنی ناخالص تولید ترکیبي اجزاوې (برخې) The components of GDP :**

که چیرته موږ غواړو چې ملي اقتصادي مسایل و څیړو نو لومړی باید د GDP په تعریف او اجزاوو باندې په کامله ډول سره ځان پوه کړو، د کورنی ناخالص تولید د ترکیبي اجزاوې او جوړښت د عاید او مصرف په ساده دایروي ماډل کې تشریح کوو :

د عاید او مصرف ساده دایروی ماډل : لکه چې مخکې مو ولوستل د یو هیواد د تولید شویو اجناسو او خدماتو نهایی ارزښت ته په یو ټاکلی وخت کې کورنی ناخالص تولید وایی.

ددې لپاره چې د GDP په جزیاتو باندې پوه شو نو لازمه ده چې لومړی عاید او مصرف دایروي ماډل و پیژنو یا په ساده ډول سره چې د یو هیواد اقتصاد ته اجناس ، خدمات او پیسې څرنګه داخلیږي او څرنګه بیرته په مصرف رسول کیږي چې دا ماډل له ساده ډول څخه تر پرمختللی شکل په جزیاتو سره په لاندې ډول سره تشریح کیږي :




په پورتنی ماډل کې د پیسو (عاید ) په مقابل کې د اجناسو او خدماتو جریان په لاندې ډول سره تشریح کولای شو .

- تولیدي کمپنی نهایی اجناس او خدمات بازار ته د خرڅلاو په منظور وړاندې کوي.
- مصرف کوونکي له تولیدي کمپنیو او بازارونو څخه اجناس او خدمات د عرضې او تقاضا په نتیجه کې د ټاکل شوي قیمت په اساس تر لاسه کوي .
- مصرف کونکي ددې تر څنګ چې د اجناسو د تر لاسه کولو لپاره پیسې مصرفوي همدارنګه د تولید عوامل (کار او پانګه ) کمپنیو ته مهیا کوي .
- کمپنی په تر لاسه شوي عاید له بازار څخه د تولید عوامل تر لاسه کوي .


(c) ketabton.com: The Digital Library



د عاید او مصرف د دایروي جریان تشریحي ماډل: د ملي اقتصاد د مهمو او پیچلو ستونزو د څیړلو او د حل په منظور موږ د دایروي جریان تشریحي ماډل ته ضرورت لرو، دغه ماډل د ساده ماډل یو پرمختللی شکل دی چې په ساده دایروی جریان ماډل باندې هغه جزیات اضافه کیږي چې په اقتصادي نظامونو کې ورته ډیره اړتیا پیښیږي.

ددې ماډل د تشریح لپاره لومړی د کمپنۍ څخه شروع کوو بیا دغه ماډل په دوه برخو باندې په داسې ډول سره ویشو چې په لومړی برخه کې په یو اقتصادي نظام د پیسو جریان او دوهمه برخه د اجناسو جریان تشریح شي .

دکمپنۍ ماډل او د اجناسو او خدماتو د ارزښت د زیاتوالي نظریه: مخکې له دې چې د دایروي جریان تشریحي ماډل و څیړو موږ باید د په دایروي جریان کې د کمپنۍ ماډل تر نظر لاندې ونیسو چې کمپنۍ له نورو بنسټونو او سره په لاندې ډول خپل فعالیت سرته رسوي .





په دغه ماډل کې کمپنۍ هغه واحد دی چې د تولیداتو په ارزښت کې زیاتوالي راولي دغه تولیدات کیدای شي خام مواد، نیمه خام مواد او یا هم کارتمامه اجناس او یا هم خدمات وي .له ارزښت څخه هدف د خامو موادو څخه کار تمام اجناس جوړول دي تر څو خرڅلاو ته آماده شي.

د مثال په ډول د بازار عمده پلورونکی په ۵ افغانی یو قلم له کمپنۍ تر لاسه کوي او یوه افغانی خپله ګټه ور سره یوځای کوي چې په ۶ افغانی سره یې په مصرف کوونکو باندې خرڅوي، په نتیجه کې ویلای شو چې بازار د قلم په ارزښت کې ۱ یوه افغانی زیاته کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاید او مصـرف پـه دایـروي مـاډل کـې د کمپنـی رول: ټـولې کمپنـی پـه دریـو برخـو بانـدې ویشـو، FR هغـه کمپنـی چـې خـام مـواد تـر لاسـه کـوي،FH هغـه کمپنـی چـې نیمـه کـار تمـام اجنـاس تولیـدوي اوFF هغــه کمپنــی چــې کارتمــام اجنــاس تولیــدوي او د Y حــرف د GDP لپــاره کــاروو.




- اوس کـه چیرتـه YR د ټولـو اجناسـو مجمـوعی ارزښـت وي چـې لـه FR کمپنـی FH کمپنـی تـه ځـي، نـو پـه نتیجـه کـې FR تـه د ټولـو کمپنیـو راغلـي اضـافي ارزښـت لـه YR سـره مساوي دی .
- همدارنګـه کـه چیرتـه لـه FH څخـه FH تـه د ټولـو اجناسـو مجمـوعي ارزښـت YH وي نـو د FH اضافي ارزښت مساوي له دی YH-YR څخه .
- لـه بلـې خـوا FF تـه ټـول انتقـال شـوی اضـافي ارزښـت لـه Y-YH سـره مسـاوی دی کـه چیرتـه د کمپنیـو زیـات شـوی ارزښـت سـره جمـع کـړو نـو$Y=YR+(YH-YR)+(Y-YH)$ تر لاسه کیږي .
- پـه نتیجـه کـې کـه هـر څـومره زیـاتي کمپنـی موجـودې وي د همـدې فـارمول پـه واسـطه کـولای شو پورتنی نتیجه تر لاسه کړو.


دا چـې د هـرې کمپنـی زیـات شـوی ارزښـت د همغـې کمپنـی د تولیـد عواملـو سـره مسـاوي دی ، نـو ویـلای شـو چـې د کمپنیـو پـه واسـطه ټـول تـر لاسـه شـوی عایـد مجموعـه د کمپنـی پـه واسـطه د زیـات شوي ارزښت سره برابر ده کوم چې په Y سره ښودل کیږي.

دکمپنیـو پــه واسـطه تــر لاســه شــوی عایــد = د کمپنیـو پــه واسـطه زیــات شــوی ارزښــت = کــورنی ناخالص تولید

(c) ketabton.com: The Digital Library




د عاید او مصرف په دایروي ماډل کي د اجناسو دوران:لاندینی شکل د دایروی جریان ماډل پرمختللی او تشریحی شکل دی چي په اسانی سره کولای شو تشریح کړو چي څرنګه اجناس د اقتصادی سکتورونو تر منځ جریان لري .




- د خصوصـي سـکتور تـر څنـک پـه دغـه مـاډل کـي دولـت او بهـر نـړی (بهرنـی تجـارت) هـم زیات شوي دي .
- د اجناسـو پـه بـازار کـي کارتمـام اجنـاس د مصـرف پـه اسـاس پـه څلـورو برخـو بانـدي ويشـل شوي دي (د خصوصي سکتورمصارف، دولتی مصارف، صادرات او واردات ) .

د عاید او مصرف په دایروي ماډل کي د پیسو دوران :



(c) ketabton.com: The Digital Library



د عاید او مصرف په دایروي ماډل کې د خصوصي سکتور ونډه :

- د خصوصي سکتور په واسطه تر لاسه شوی مجموعي عاید ملي عاید دی دا چې خصوصی سکتور د تولید له عواملو په کار اچولو څخه عاید تر لاسه کوي نو په دې اساس ملی عاید له GDP سره برابر دی اوچې د Y په حرف سره ښودل شوی .
  ولی باید په یاد ولرو د چې د GDP د اجزاوو په پرمختللی څیرنه کې چیرته چې استهلاک او بهرنی عاید محاسبه کیږي په هغه صورت کې د خصوصي ستکور په واسطه تر لاسه شو عاید ملی عاید نه دی .
- خصوصي سکتور دولت ته مالیات ورکوي دلته باید د مالیاتو ټول ډولونه لکه عایداتي مالیات، اضافي ارزښت مالیات، د خرڅلاو مالیات او د معاشاتو مالیات محاسبه شي.
- ددې مالیاتو یوه برخه له دولت څخه بیرته خصوصي سکتور د کار د حقوقو، د ماشومانو د حقوقو، د بیمي او یا هم د تقاعد په شکل انتقال مومي .
- خالص مالیات چې د انتقالاتو څخه وروسته پاته کیږي د NT په حروفو سره ښودل کیږي .
- ملي عاید څخه کله چې خالص مالیات تفریق شي نو مصرفي عاید او یا هم شخصي مصرفی عاید ورته ویل کیږي چې په YDisp=Y-NT فورمول سره سنجول کیږي .
- د خصوصي سکتور په واسطه ټول مصارف د C په حرف سره ښودل کیږي C نباید مساوي وي د خصوصي له سپما سره څکه (H for household) SH=YDisp-C که چیرته C>YDisp نو بیا SH<0 چې په نتیجه کې د خصوصي سکتور د قرض اخستلو په معنی ده .

دولت، مالي مارکیتونه او نوره نړی د دایروي جریان په ماډل کې: د دولت ټول لګښتونه په دوه برخو باندې ویشل کیږي چې یو یې خصوصي سکتور ته انتقالات او دوهم د دولت خپل مصرف دی.

- دولتي مصارف د دولت لخوا په اجناسو او خدماتو باندې مصارف دي د پوځ یوه مامور ته معاش ورکول د دولت مصرف ګڼل کیږي پداسي حال کې د هغه اعاشه او اباطه د دولت د انتقالاتو څخه عبارت دی او ددولت لګښتونه د G په واسطه ښودل کیږي .
- د دولت د مالیاتو د عاید یوه برخه بیرته خصوصی سکتور ته انتقال مومی چې دولت خالص مالیات NT سره ښودل کیږي .
- دولت خپله بودجه لري چې G=NT دی نو په دې اساس ویلی شو چې د دولت سپما له SG=NT-G څخه عبارت ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټول صادراتو ارزښت په X سره ښودل شوي دی او د ټولو وارداتو ارزښت Im سره ښودل شوی دی که چیرته Im>X وي نو په دې صورت کې د ټولو صادراتو ارزښت د وارادتو د ارزښت په پرتله زیات دی دغه توپیر SR=Im-X د نورې نړی سپما بلل کیږي چې یا په بله معنی موږ د نورې نړی قرضداره یو .
- دیرې کمپنی د پانگه اچونې لپاره مالي موسسو او مارکیټونو ملاتړ ته ضرورت او له هغوی څخه پیسې په قرض اخلي چې په I سره ښودل کیږي ، چې په نتیجه کې ویلای شوی چې د پانگه اچونې اندازه د دولت د سپما، د خصوصي سکتور د سپما او نورې نړی د سپما په نتیجه کې منځته راځي .

$$I=SH+SG+SR$$

**د کورنی ناخالص تولید د اندازه کولو طریقه :**

د یو هیواد د پرمختگ او لاسته راوړنو د معلوموملو لپاره لازمه ده تر څو په اقتصادي وده و پوهیږو او د اقتصاد د ودې د اندازه کولو لپاره موږ باید GDP استفاده کړو .

GDP په څلورو مختلفو طریقو سره اندازه کیدلای شي چې د هرې طریقې نتیجه برابره او یو شی ده دغه څلور میتودونه که څه هم په پورتنیو دایروي جریاناتو کې تشریح شول یو ځل بیا ور باندې یوه لنډه کتنه کوو.

د تولید په میتود د GDP پیداکول : د GDP په لومړي میتود کې د یو هیواد په اقتصاد کې د تولید شویو اجناسو او خدماتو د ارزښت اندازې په اساس تر لاسه کیږی د ټولو کمپنیو ټول نهایی تولیدات باید وشمیرل شي چې دې میتود ته د تولید په اساس د GDP د تر لاسه کولو میتود وایی .

کله چې د کمپنیو اجناس او خدماتو د شمیرلو یادونه کوو دا باید په یاد وساتل شي چې د اجناسو او خدماتو د دوباره حسابولو څخه مخنیوی وشي .

د عوایدو په اساس د GDP پیداکول: د GDP د پیداکولو دوهمه لاره د اجناسو او خدماتو له تولید څخه د ترلاسه شویو عوایدو په اساس سنجس کیږي چې ددې طریقې څخه تر لاسه ارقام او د تولید په میتود تر لاسه شوي ارقام باید عین شان وي . چې د عاید په طریقه د د تولید دعواملو د بازار څخه ټول تر لاسه شوي عاید د GDP څخه عبارت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لګښتونو په اساس د GDP پیداکول : د GDP د تعریف په نظر کې نیولو سره بله طریقه د مصارفو له مجموعي څخه د GDP پیداکول دی چې د بازار د قیمت په اساس یې صورت نیولی وي او لاندې عوامل په کې شامل دي .

د مصرف کوونکو لګښتونه : دا لګښتونه د کورنی او بې کټو تولنو په واسطه د اجناسو او خدماتو د تر لاسه کولو له لګښتونو څخه عبارت دي چې د C په توري سره ښودل کیږي.

د دولت لګښتونه : دا لګښتونه د مرکزي او سیمه ایزو دولتي ادارو په واسطه د اجناسو او خدماتو د تر لاسه کولو لپاره لګښتونه شامل دي مګر دې لګښتونو کې انتقالات ( حقوق ) شامل نه دي چې د G په توري سره ښودل کیږي .

د پانګې اچونې لګښتونه : په دې لګښتونو کې د پانګې اچونې لګښتونه دي لکه تعمیر، ماشینونه او همدارنګه د خامو موادو، نیمه کاره ، او کارتمامو اجناسو ګدام .چې د I په توري سره ښودل کیږي .

د اجناسو او خدماتو صادرات چې په X توري سره ښودل کیږي

د اجناسو او خدماتو واردات چې د M توري سره ښودل کیږي چې باید له صادراتو څخه تفریق شي تر څو په داخلی تولیداتو باندې د لګښتونو اندازه معلومه شي .

$$Y(GDP)= C+G+I+X-M$$

د کمپنیو د اضافی ارزښت په طریقه : هره کمپنی د تولید د عوامل په کار اچولو سره د هغه عواملو په ارزښت کې زیاتوالی راولي دا چې د هرې کمپنی زیات شوی ارزښت د همغې کمپنی د تولید عواملو سره مساوي دی ، نو ویلای شو چې د کمپنیو په واسطه ټول تر لاسه شوی عاید مجموعه د کمپنی په واسطه د زیات شوي ارزښت سره برابر ده کوم چې په Y سره ښودل کیږي.

دکمپنیو په واسطه تر لاسه شوی عاید = د کمپنیو په واسطه زیات شوی ارزښت = کورنی ناخالص تولید

**GDP او ملي عاید:**

څرنګه چې مخکې ولوستل شول د خصوصي سکتور په واسطه مجموعي عاید ملي عاید دی دا چې خصوصی سکتور د تولید له عواملو په کار اچولو څخه عاید تر لاسه کوي نو په دې اساس ملی عاید له GDP سره برابر دی، باید په یاد ولرو د چې د GDP د اجزاوو په پرمختللی څیرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چیرته چې استهلاک او بهرنی عاید محاسبه کیږي په هغه صورت کې ملی عاید GDP نه دی .

ناخالص ملي عاید: د یو هیواد یوه اندازه عاید چې بهر ته د مختلفو مقاصدو لپاره انتقالیږي چې د بهرنیو کارګرانو مزدونه ، سود، ګټه د بهرنیو کارګرانو او هم پانګوالو په اساس له هیواد څخه بهر ته ځي .

همدارنګه یوه اندازه عاید له بهر څخه د همدې هیواد د اوسیدونکو په واسطه د مزد، ګټې ، سود او کرایې له لارې هیواد ته راوړل کیږي .

داچې GDP د هیواد د داخلي عاید سره سروکار لري او له بهر څخه د عاید د تر لاسه شویو ارقامو په اړه وضاحت نه لري نو ددې د اندازه کولو لپاره موږ یو اندازه ګیری ته ضرورت لرو چې هغه ناخالص ملي عاید Gross National Income دی .

GNY=GDP-Net income from abroad

دا په داسې حال کې چې GDP د یو هیواد په داخلي تولیداتو په ارزښت تمرکز لري او GNY د هیواد د اوسیدونکو په واسطه په تر لاسه شوي عاید تمرکز کوي .

خالص ملي عاید: په حقیقت کې په یوه موده کې د یو هیواد د پانګوني وسایل د استعمال په وجه خپل ارزښت کموي یا په بله اصطلاح استهلاک کیږي نو که چیرته مو له GNY څخه د یو هیواد د پانګه اچوني د وسایلو د کلنی استهلاک اندازه تفریق کړو په نتیجه کې به خالص ملي عاید تر لاسه شي .

NNY=GNY-Depreciation

پای

DRAFT

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**